## د عامه ګټو رسنیو لپاره نړیوال وجهي صندوق

## د 2022 کال د وړاندیزونو د تمویل لپاره لومړۍ بلنه

**د عامه ګټو رسنیو لپاره نړیوال وجهي صندوق (IFPIM)**

د عامه ګټو رسنیو لپاره نړیوال وجهي صندوق (IFPIM) یوه غښتلي او څو اړخیزه طرحه ده چې د عامه ګټو د خپلواکو رسنیو، بیا په ځانګړې توګه د هغو رسنیو لپاره چې په ټیټه او منځنۍ کچه عاید فعالیت کوي رامنځته شوې ده او په اوسنیو حالاتو کې د هغو سیستماتیکو اوږدمهالو حل لارو ملاتړ کوي چې خپلواکې رسنۍ د خپلو فعالیتونو د تمویل توان نلري او مرستې ته اړتیا لري. ددې وجهي صندوق هدف دا دی ترڅو د معتبر، اخلاقي او د واقعیت پر بنسټ ولاړ ژورنالیزم د ملاتړ په موخه د ډموکراسۍ لپاره د پام وړ کار په هدف د موجوده رسنیو پراخ ملاتړ وکړي. ددې وجهي صندوق په اړه لا زیات معلومات په ifpim.org ویب پاڼه کې ترلاسه کیدی شي.

> "خپلواکو معتبرو خبرونو ته له لاسرسي پرته، خلک په تیاره کې پاتې کیږي، حکومتونه په فساد ککړ او آزاد او ډیموکراتیک تاسیسات ډیر ژر تقلب او د خلکو غولولو ته مخه کوي."
>
> مارک ټامسن او ماریا رسا، د IFPIM ګډ رییسان

**1 برخه: د عامه ګټو د رسنیو تعریف**

IFPIM د عامه ګټو رسنۍ د هغو رسنیو په توګه تعریفوي چې:

- له سانسور څخه پاکې او خپلواکې وي؛
- ددې هدف لپاره رامنځته شوې وي چې خلک د هغو موضوعاتو په اړه خبر کړي چې د هغوی پر ژوند اغیزه کوي او د خلکو په خدمت کې وي نه دا چې سیاسي، سوداګریز یا حزبي ګټو پورې تړلې وي؛
- په ټولنه کې د عامه بحث او دیالوګ لپاره لاره هواره کړي؛ او
- د عامه ګټو د تامینولو لپاره، حکومتي چارواکي ځواب ورکولو ته راوبلي

پر هغو اخلاقي او معتبرو رسنیو تمرکز چې په ټوله ټولنه کې د خلکو د ګټو لپاره فعالیت کوي، نه د هغو کسانو لپاره چې پیسې او قدرت په اختیار کې لري او له پیسو او قدرت څخه پر رسنیو د نفوذ لپاره کار اخلي. د عامه ګټو رسنۍ کولی شي په یوه ټولنه کې سوداګریزه، د عامه خدمتونو او یا د یوې فعالې رسنۍ بڼه ولري او په آنلاین، نشراتي، چاپي او د نورو نشراتي چینلونو له لارې فعالیت وکړي.

ددې وجهي صندوق له لارې د پام وړ پرمختګونه شوي دي او په داسې حال کې چې د تاسیس په لومړي پړاو کې دی، د وړاندیزونو د بلنلیک لپاره یې کافي اندازه بودیجه برابره کړې ده.
د وړاندیزونو دا بلنلیک د تمویل او د بودیجې د فرصتونو لومړی ګام بلل کیږي.

**ددې بودیجې هدف**

د عامه ګټو د رسنیو وجهي نړیوال صندوق، یو خپلواک وجهي صندوق دی چې د ( ) د سخاوتمندانه ملاتړ پر بنسټ جوړ شوی دی

د وړاندیزونو د ترلاسه کولو دا لومړۍ بلنه د هغې اوږدمهالي تګلارې د یوې برخې په توګه رامنځته شوې ده چې هدف یې د اقتصادي شدید فشار سره سره او د عامه ګټو لپاره د ژورنالیزم د دوامدار ملاتړ او همداراز د مخاطبینو د لاسرسي او ارتباطاتو د پراخوالي په لاره کې، د عامه ګټو د رسنیو **ساتنه او بیارغونه** بلل کیږي.

ددې لومړۍ بلنې لپاره، د بودیجې غوښتنلیکونه باید د لاندې اهدافو له جملې څخه له یو یا زیاتو اهدافو سره ارتباط ولري:

- د عامه ګټو د رسنیو د رپوټونو دوامدار تولید او خپرونه ترڅو په اوسني نامطلوب بازار کې او د بودیجې شدیدې اړتیا سره سره، په ټولنه کې یې اغیزه او نقش وساتل شي
- مخاطبینو سره د برخې اخیستې د نویو روشونو د ازمایلو له لارې او د رسنیو په ایکوسیستم کې د فعالو رسنیو او مدني ټولنې سره د برخې اخیستنې له لارې، په ټولنه کې د ناسمو اطلاعاتو د ننګونو د حل لپاره د ګټورو طرحو رامنځته کول
- د لاسرسي او همداراز د مخاطبینو د برخې اخیستنې د کچې پراخول، البته د هغو کسانو د لاسرسي د پراخولو په ګډون چې غواړي د محرومو مخاطبینو اړتیاوې پوره کړي
- په خبري خونو کې د تنوع د کچې د لوړولو او د ټولنو د لړو خپرو شویو موضوعاتو د خپرولو له لارې د رسنیو په ایکوسیستم کې د ټولنې د استازیتوب د کچې لوړول

**<u>جغرافیایي حدود</u>**

په دې لومړۍ بلنه کې، د لاندې هیوادونو د عامه ګټو ژورنالیزم سوابق لرونکو رسنیو لومړنیو طرحو ته بلنه ورکول کیږي:

- **د جنوبي افریقا صحرا:** ګانا، نایجر، سینیګال، سیرالیون، جنوبي افریقا؛
- **منځنی ختیځ او شمالي افریقا:** لبنان، تونیشیا،
- **کریبین، مرکزي او جنوبي امریکا:** برازیل، کولومبیا، مکسیکو؛
- **آسیا او پاسیفیک:** افغانستان، مالیزیا، نیپال، فلپین
- **شرقي اروپا:** ګرجستان، اوکراین

مالي مرستې باید په پورتنیو هیوادونو کې د عامه ګټو رسنیو ملاتړ وکړي. په راتلونکو بلنلیکونو کې به سربیره پر دې هیوادونو، د لازیاتو هیوادونو نومونه شامل شي.

**<u>د مالي مرستو اندازه او واجدیت شرایط</u>**

**د مالي مرستو مبلغ:** مالي مرستې به د تر 2 کلونو مودې پورې برابریږي. زموږ تمه دا ده چې ډیر شمیر مالي مرستې د 80,000$ څخه تر 350,000$ پورې وي. IFPIM د لازمي بودیجې د تامینولو لپاره د اړتیاو د تعادل او د بودیجې پر منفرد برابروونکي د اتکا کولو د خطر په باب، معلومات او خبرتیا لري. تمه کیږي چې د مالي مرستو مبلغ په هر کال کې عموما د موسسې د کلنۍ بودیجې 10% څخه تر 30% په ردیف کې وي.

**د غوښتونکي ډول:** مالي مرستې یوازې رسنیزو موسساتو لپاره موجودې دي او په دې بلنلیک کې په رسنیز ایکوسیستم کې نورو اشخاصو او موسساتو لپاره مالي مرستې نشته. رسنیزې موسسې هغه موسسې دي چې په یو قانوني نهاد کې ثبت او راجسټر وي او د دلته ایزو رسنیو له لارې عامه خلکو لپاره د معلوماتو پر خپرولو بوخت وي. ټولې رسنیزې موسسې – انتفاعي او غیر انتفاعي کولی شي د بودیجې د ترلاسه کولو غوښتنه وکړي. هغه غوښتونکي چې اوس مهال یې کلنی عاید لږ ترلږه 50,000$ دی، کولی شي درخواست وکړي. زموږ تمه دا ده چې ډیر شمیر غوښتونکي په کال کې له 50,000$ څخه ډیر عاید ولري.

د عامه ګټو د رسنیو وجهي نړیوال صندوق، یو خپلواک وجهي صندوق دی چې د ( ) د سخاوتمندانه ملاتړ پر بنسټ جوړ شوی دی

غوښتونکي باید ثابت کړي چې د عامه ګټو د رسنیو له تعریف سره چې په Box 1 کې توضیح شوي دي، همغږي وي. که چیرې غوښتونکي له دې تعریف سره همغږي ولري، موږ به د ټولو رسنیزو موسساتو غوښتنلیکونه (آنلاین او غیرآنلاین) ؛ مخاطبینو (له ملي رسنیو نیولې تر ځایي او ټولنیزو رسنیو پورې) ؛ عمومي او تخصصي رسنی او بیلابیلو سوابقو لرونکو رسنیو (مخکې تاسیس شوې رسنۍ او نوې تاسیس شوې رسنۍ) په پام کې نیسو.

## غوښتنلیک او د ټاکنې پروسه

هغه موسسې چې په لومړي بلنلیک کې د بودیجې غوښتونکي دي، په لومړي ګام کې باید (نږدې 3 نه تر 4 پاڼو) مقدماتي طرحه چې دا لاندې موضوعات پکې تشریح شوي وي، وسپاري.

- درخواست کوونکې موسسه، چې پکې د IFPIM د عامه ګټو د رسنیو تعریف شامل وي؛ او
- درخواست کوونکې موسسه له IFPIM څخه د بودیجې له لارې د څه شي ترلاسه کول غواړي.

د مقدماتي طرحې فورمې ددې لینک [link to google form] په تعقیبولو سره ترلاسه کړئ.

لازیات معلومات او لارښوونې په لاندې لینکونو کې ترلاسه کیدی شي چې پکې "په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې" شاملې دي. خپلې پوښتنې ته د ځواب د نه پیداکولو په صورت کې، مهرباني وکړئ خپلې پوښتنې د مې میاشتې 20 مې نیټې څخه مخکې opencall@ifpim.org بریښنالیک ته ولیږئ او د بریښنالیک د موضوع په برخه کې *'Question related to Funding Call 1'* یا "په 1 بلنلیک کې د بودیجې په اړه پوښتنه"، ولیکئ. په یاد ولرئ چې موږ به انفرادي بریښنالیکونو ته ځواب نه ورکوو، بلکه "په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې" به د غوښتنلیکونو د پروسې په جریان کې، نوې کوو.

د غوښتونکو لومړنۍ طرحې به په پام کې ونیول شي او د بیاکتنې لپاره به شارټ لسټ شي. شارټ لسټ شویو غوښتونکو ته به بیا بلنه ورکول کیږي چې هراړخیز وړاندیز وړاندې کړي چې پکې د مالي چارو په باب لازیات معلومات، د پام وړ اغیزې او د دقیقې کتنې لپاره اسناد شامل کړي. موږ تمه لرو چې په دې بلنه کې ډیر شمیر غوښتونکي ولرو چې له هغې جملې څخه به یوازې محدود شمیر بریالي کیږي.

**مهال ویش**

- **دوشنبه د 2022 کال د جون 13 مه –** د لومړنۍ طرحې د لیږلو وروستی نیټه (د شپې تر 11:59 بجو GMT)
غوښتونکي به د تایید بریښنالیک ترلاسه کوي چې پکې به د هغوی د غوښتنلیکونو ترلاسه کیدل تایید شي.
- **دوشنبه د 2022 کال د جولای 11 مه نیټه –** ټول غوښتونکي به د شارټ لسټ د پروسې د پایلو په اړه خبرتیا ترلاسه کړي. له شارټ لسټ شویو غوښتونکو څخه به وغوښتل شي چې لازیات مفصل غوښتنلیک وړاندې کړي. په دې پړاو کې به شارټ لسټ شویو غوښتونکو لپاره لازیات معلومات او لارښوونې برابرې شي.
- **دوشنبه د 2022 کال د اګست 15 مه نیټه –** شارټ لسټ شویو غوښتونکو لپاره وروستی مهلت چې باید خپل وړاندیزونه ولیږي (د شپې 11:59 بجو پورې GMT)
- **پنجشنبه د 2022 کال د سپتمبر 15 او له هغې وروسته –** د سپتمبر تر 15 مې نیټې د مالي مرستو د ترلاسه کوونکو د وروستي شمیر ټاکل، او د نومبر تر **15** مې نیټې د مالي مرستو لازیاتو ترلاسه کولو ټاکل. هغه غوښتونکي چې د ټاکنې د پروسې په لړ کې رد شوي دي، د پایلې د پریکړې کیدو سره سم به خبرتیا ترلاسه کړي. ټاکل شوي غوښتونکي به د قرارداد له مرحلې تیریږي. د پیسو ورکړه به د مالي مرستې د هوکړه لیک لاسلیک کیدو سره سم، ترسره کیږي خو دقیق مهال ویش به د بیلابیلو سیمو او حوزو لپاره توپیر لري.

دغه مهال ویش کیدی شي د IFPIM د پریکړې په اساس بدلون ومومي. هرې سیمې یا حوزې ته په کتلو، ددې امکان هم شته چې د پیسو د طی مراحل موده له هغې مودې څخه ډیر وخت ونیسي چې دلته ذکر شوې دی.

## د واجدیت شرایط او ټاکنې معیارونه

د عامه ګټو د رسنیو وجهي نړیوال صندوق، یو خپلواک وجهي صندوق دی چې د ( ) د سخاوتمندانه ملاتړ پر بنسټ جوړ شوی دی

زموږ د ټاکنې د پروسې لومړی پړاو به د غوښتونکو د لومړنیو طرحو د کتنې، د موسساتو او کاري سوابقو د معلوماتو او همدارا‌ز د لاندې معیارونو د پوره کولو په اساس ترسره کیږي:

- **د واجدیت شرایط** ټول معیارونه چې "د مالي مرستو اندازه او واجدیت شرایط" برخه کې وړاندې شوي دي، باید پوره کړای شي.
- **د رسنۍ د موسسې د مدیره هیئت صداقت او ربښتینوالی**، د عامه ګټو د ژورنالیزم د موادو تولیدول او زموږ د عامه ګټو د رسنیو له تعریف سره تطابق
- د موسسې او اړونده ټیم **سوابق، ورتیاوې او تنوع.**
- **د بودیجې احتمالي اغیزې** – ددې بودیجوې د بلنلیک له هدف سره د وړاندیز شوي لرلید یا فعالیتونو تطابق، او د پام وړ بریالیتوب په اړه د غوښتونکي د تعریف په اساس د بودیجې د پام وړ اغیزې.

په دویم پړاو کې، د شارټ لست شویو غوښتونکو وړاندیزونه به وارزول شي چې پکې به دا لاندې موضوعات په پام کې ونیول شي: د اغیزو احتمال، وړاندیز شویو اهدافو ته د رسیدو پلان، د غوښتونکي مالي اړتیاوې او د وړاندیز شویو اهدافو او غوښتل شوې بودیجې تطابق، د موسسې د اهدافو د پوره کولو او پراختیا لپاره د ټیم ظرفیت او ژمنه، او د زده کړې په وړاندې ژمنه. لازیات معلومات او د وړاندیزونو د لیږلو لپاره فورمه به غوښتونکو لپاره برابر شي.

<u>**لازیات معلومات او پر سوابقو یوه کتنه**</u>

- [link] په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې
- [link] د امکاناتو ارزونه
- [link] اصلي پانې ته ستنیدل IFPIM

د موادو یا اسنادو په لیږلو سره، تاسو د IFPIM [د محرمیت پالیسۍ](link) سره خپل توافق څرګندوئ. د غوښتنلیک اړوندو اسنادو په لیږلو سره، تاسو هوکړه کوئ چې (1) موږ کولی شو په راتلونکي کې تاسو سره ستاسو د غوښتنلیک په اړه اړیکه ونیسو، (2) هر هغه څه چې تاسو یې د خپل غوښتنلیک د یوې برخې په توګه برابروئ، احتمالا د IFPIM له ټیم او د IFPIM له سلاکارانو سره به شریکیږي، (3) تاسو په دې پوه یاست چې د IFPIM ټیم د متحده ایالاتو او انګلستان په ګډون - په ټوله نړۍ کې میشت دی – او تاسو هوکړه کوئ چې ټول هغه معلومات چې په خپل غوښتنلیک کې یې وړاندې کوئ، ددې اداري دننه او د دفترونو ترمنځ به شریکیږي.

## د عامه ګټو رسنیو لپاره نړیوال وجهي صندوق

## د بودیجې د وړاندیزونو لپاره د 2022 کال لومړی بلنلیک

په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې:

| پوښتنه | ځواب |
|---|---|
| **د بودیجې د تامین هدف** | |
| زموږ ننګونه دا ده چې د نویو فعالیتونو د طرح کولو پرځای، ډاډ ترلاسه کړو چې موجوده مالي فشارونو سره سره چې ورسره مخ یو، خپل د رپوټ ورکولو فعالیتونه تمویل کړو. ایا کولی شو د خپلو اوسنیو فعالیتونو لپاره د بودیجې غوښتنه وکړو؟ | هو. په هغه صورت کې چې ستاسو غوښتنلیک له موجوده فعالیتونو څخه د ملاتړ په موخه د مالي مرستې د ترلاسه کولو لپاره وي (که چیرې دا فعالیتونه ددې بلنلیک له اهدافو سره همغږي وي)، تاسو د غوښتنلیک سپارلو ته واجد شرایط یاست. |
| ایا زموږ غوښتنلیک باید د وړاندیزونو په بلنلیک کې ټول ذکر شوي اهداف تر پوښښ لاندې راولي؟ | نه. تاسو اړتیا نلرئ چې ددې بودیجې په اهدافو کې ټول توضیح شوي مثالونه پوره کړئ. |
| موږ رسنیو لپاره خدمتونه (محتویات، د حقایقو د ارزونې خدمتونه، یا د ټکنالوژۍ له لارې د حل لارې) وړاندې کوو، خو عامو وګړو لپاره اطلاعات نه خپروو. ایا کولی شو په دې بلنه کې د بودیجې د ترلاسه کولو لپاره وړاندیز ولیږو؟ | نه. د بودیجې په دې بلنه کې، غوښتونکې یوازې رسنیزو موسساتو ته محدود دي چې عامو وګړو لپاره اطلاعات خپروي. په راتلونکو مالي بلنلیکونو کې کیدی شي هغه موسسې شاملې وي چې رسنیزو موسساتو ته خدمتونه وړاندې کوي. |
| **جغرافیایي حدود** | |
| ایا د مالي مرستې یو غوښتنلیک کولی شي له یو هیواد څخه ډیر هیوادونه تر پوښښ لاندې راولي؟ | موږ تمه نلرو چې د مالي مرستو لپاره داسې غوښتنلیکونه ترلاسه کړو چې له یو هیواد څخه ډیر هیوادونه تر پوښښ لاندې راولي، خو که چیرې داسې وشي، ټول هیوادونه باید په یوه جغرافیایي محدوده کې موقعیت ولري. |
| ایا مالي مرستې به په ټولو هغو هیوادونو کې برابرېږي چې د جغرافیایي حدودو په برخه کې ذکر شوي دي؟ | ضروري نه ده. ددې لومړۍ بلنې لپاره محدوده اندازه بودیجه موجوده ده. موږ تمه لرو چې مالي مرستې په ټولو هغو هیوادونو کې چې د جغرافیایي حدودو په برخه کې یې یادونه شوې ښه پوښښ ولري، خو کیدی شي داسې هیوادونه هم وي چې د مالي مرستو په دې لومړۍ بلنه کې ونه ټاکل شي. |

| پوښتنه | ځواب |
|---|---|
| ایا تبعیدي/دیاسپورا رسنیو لپاره چې د جغرافیایي محدودې د هیوادونو په لیست کې ذکر شوي دي، مالي مرستې موجودې دي؟ | توپیر لري. مالي مرستې اشخاصو ته نه، بلکې یوازې رسنیزو موسساتو ته ورکول کیږي. که چیرې د بودیجې غوښتونکی یو قانوني نهاد په بل هیواد کې راجستر وي او د عامه ګټو رسنیو لپاره د مالي مرستې برابرونکي هیواد کې نه وي، کیدی شي هلته مالي مرستې موجودې وي. دا ډول غوښتنلیکونه په جلا ډول ارزول کیږي. |
| **د مالي مرستو اندازه او واجدیت شرایط** | |
| ایا د مالي مرستو حد اقل اندازه ځانګړې شوې ده؟ | نه. د بودیجې په دې بلنلیک کې د مالي مرستې حد اقل اندازه ځانګړې شوې نه ده خو داسې شرط موجود دی چې غوښتونکې باید لږ تر لږه $50,000 کلنی عاید ولري. موږ تمه لرو چې ډیر شمیر غوښتونکي له $50,000 څخه ډیر کلنی عاید ولري. |
| په لارښوونو کې توضیح شوي دي چې تمه کیږي کلنی مالي مرستې په هر کال کې د اوسنی کلنی بودیجې 10%-30% ردیف کې وي. که چیرې د مالي مرستو غوښتنلیک زموږ له اوسنی بودیجې څخه له 10% څخه لږ یا 30% څخه زیاتې بودیجې لپاره وي، ایا واجد شرایط ګڼل کیدی شو؟ | هو. دا ردیف واضح دی. موږ به ټیټې او لوړې سلنې غوښتنلیکونه په پام کې نیسو. له 30% زیاتې مالي مرستې غوښتونکو څخه به وغوښتل شي چې دا توضیح کړي چې څرنګه کولی شي پر منفرد تمویلونکي د انحصار یا اتکا خطر کمولی شي. |
| زموږ موسسه د پراخو خدمتونو له ډلې څخه د عامه ګټو د رسنیو خدمتونه هم برابروي. ایا کولی شو د بودیجې غوښتنه وکړو؟ | هو. خو مالي مرستې باید د عامه ګټو د رپوټونو د جوړولو لپاره وکارول شوي، نه د نورو فعالیتونو لپاره. |

| پوښتنه | ځواب |
|---|---|
| ایا کولی شئ د مالي مرستي د مبلغ او د اوسنی بودیجي ترمنځ د اړیکي یوه بیلګه وړاندې کړئ؟ | تاسو لپاره لومړی پړاو دا دی چې د مالي مرستي کلنی مبلغ چې په لټه کې یې یاست، وټاکئ. که چیرې ستاسو مالي مرستي له 2 کلونو څخه ډیرې مودې لپاره وي، تاسو باید د خپلې مالي مرستي مبلغ په دوو برخو وویشئ. په 2 پړاو کې، د مالي مرستي همدا کلنی مبلغ خپلې اوسني بودیجي سره پرتله کړئ.<br><br>تمه دا ده چې مالي مرستي لپاره ستاسو کلنی غوښتنلیک ستاسو د اوسنی بودیجي په 30%-10% ردیف کې وي.<br><br>**یوه روښانه بیلګه:**<br>د مالي مرستي غوښتنلیک: $150,000<br>د مالي مرستي موده: 2 کاله<br>اوسنی بودیجه: $300,000<br><br>1 پړاو: د کلنی مالي مرستي اوسط محاسبه کړئ.<br><br>$150,000/2 کاله = $75,000 په هر کال کې<br><br>2 پړاو: اوسنی بودیجه پرتله کړئ<br><br>مالي مرسته $75,000 په هر کال کې/$300,000 اوسنی بودیجه = 25%<br><br>دا د پام وړ ردیف (30%-10%) په حدودو کې راځي. |
| د غوښتنلیک او ټاکنې پروسه | |
| ایا کولی شم د خپلې لومړنۍ طرحې په باب د IFPIM د ټیم یو غړي سره خبرې وکړم؟ | په دې پړاو کې نه. خپلې پوښتنې ته د ځواب د نه پیداکولو په صورت کې، مهرباني وکړئ خپلې پوښتنې د مې میاشتې 20 مې نیټې څخه مخکې opencall@ifpim.org بریښنالیک ته ولیږئ او د بریښنالیک د موضوع په برخه کې *'Question related to Funding Call 1'* یا "په 1 بلنلیک کې د بودیجې په اړه پوښتنه"، ولیکئ. په یاد ولرئ چې موږ به انفرادي بریښنالیکونو ته ځواب نه ورکوو، بلکه "په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې" به د غوښتنلیکونو د پروسې په جریان کې، نوي کوو. |

| **پوښتنه** | **ځواب** |
|---|---|
| خپله لومړنۍ طرحه په کومه ژبه ولیږم؟ | که چیرې په انګلیسي ژبه د خپلې لومړنۍ طرحې په لیږلو کې راحت یاست، په همدې ژبه یې راولیږئ. که نه نو، تاسو کولی شئ چې په هره ژبه چې د لومړنۍ طرحې فورمه ژباړل شوې وي، راولیږئ. |
| د یوې موسسې د تمویل په باب پریکړه څوک کوي؟ ستاسو تمویلوونکي ترکومه حده پر دې پریکړې نفوذ لرلی شي؟ | IFPIM یو خپلواک وجهي صندوق دی. د بودیجې د ورکړې پریکړه د IFPIM د مدیریتي ټیم له خوا کیږي. تمویلوونکي نشي کولی په بودیجوي پریکړو باندې نفوذ ولري. |
| بودیجه به کله توزیع کیږي؟ ایا کولی شم چې مالي مرستې د روان او راتلونکي کال په بودیجه کې شامل کړم؟ | بودیجه به د مالي مرستې د هوکړه لیک له لاسلیک کیدو سره سم ورکړل شي، خو دا امر بیا په بیلابیلو سیمو کې توپیر لري. |
| که چیرې زموږ موسسه په دې لومړۍ بلنه کې د بودیجې د تمویل لپاره غوره نشي، ایا کولی شو چې په راتلونکو بلنو کې بیا درخواست وکړو؟ | هو. که چیرې تاسو په دې لومړۍ بلنه کې درخواست وکړئ او که نه، تاسو کولی شئ په راتلونکي کې بیا درخواست وکړئ، خو په دې شرط چې تاسو د بلنلیک معیارونه پوره کړئ. |
| ایا زموږ موسسې لپاره به د IFPIM مالي مرستې په عامه توګه اعلانیږي؟ | د یوې عمومي قاعدې له مخې، موږ به د بودیجې د ترلاسه کوونکو لیست خپروو. که چیرې دا کار ستاسو د موسسې لپاره د (امنیتي، سیاسي ...) خطرونو لامل کیږي، موږ کولی شو تاسو سره په دې اړه خبرې وکړو او ستاسو د مالي مرستې د نه اعلانولو په باب پریکړه وکړو. |
| که چیرې زما موسسه ددې بلنلیک له ټاکل شوي مهال ویش سره سم اقدام ونشي کړی، څه به وشي؟ | دا بلنلیک د IFPIM یوازې لومړنی بلنلیک دی. که چیرې تاسو په راتلونکي کې غواړئ بیا درخواست وکړئ، موږ ته خپل معلومات په opencall@ifpim.org بریښنالیک راولیږئ. |
| **د لومړنۍ طرحې فورمه** | |
| زموږ موسسه د تأسیس په پړاو کې ده. ایا درخواست کولی شو؟ | هو. خو د موسسې د تأسیس ټول پړاوونه باید تر دوشنبې ورځ، د 2022 کال د اګست تر 15 مې نیټې بشپړ شي. |
| د کلنۍ بودیجې او کلني عاید ترمنځ توپیر څه دی؟ | ستاسو کلنۍ بودیجه هغه مبلغ دی چې تاسو غواړئ مصرف یې کړئ، ستاسو کلنۍ عاید (له ټولو سرچینو څخه) ستاسو د عاید مبلغ دی چې د تیر کال په لړ کې (د موجوده کلنیو وروستیو حسابونو په اساس) مو ترلاسه کړي دي. |

**د غوښتنلیک د شرایطو چک لست**

له درخواست کولو مخکې ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو موسسه او مالي مرستو لپاره ستاسو غوښتنلیک له لاندې شرایطو سره برابر وي. لازیات معلومات د وړاندیزونو په بلنلیک کې وړاندې شوي دي.

غوښتونکی یوه رسماً راجستر شوې موسسه ده او اوس مهال د ډله ایزو رسنیو له لارې عامو وګړو ته د معلوماتو د خپرولو دنده ترسره کوي. ☐

غوښتنونکی د عامه ګټو د رسنیو له تعریف سره چې د وړاندیزونو د بلنلیک په 1 برخه کې یې یادونه شوې ده، تطابق لري☐

غوښتنلیک باید د وړاندیزونو د بلنلیک په چوکاټ کې د بودیجې د تامینولو اهدافو سره تطابق ولري. ☐

غوښتنلیک باید په هغو هیوادونو کې کړنې او فعالیتونه تر پوښښ لاندې ولري چې په ټاکل شوې جغرافیایي محدوده کې ځانګړې شوي دي او غوښتونکي په همدې هیواد کې د کار سوابق ولري. ☐

غوښتونکی اوس مهال لږ ترلږه $50,000 کلنی عاید ولري☐

وړاندیز شوې مالي مرسته به د حد اکثر 2 کلونو مودې لپاره وي (زموږ تمه دا ده چې ډېر شمیر مالي مرستې د $80,000 - $350,000 په کچه کې وي او د کلنی مالي مرستې مبلغ باید د موسسې د کلنی بودیجې په 10%-30% ردیف کې وي).☐

**د لومړنی طرحي فورمه**

| **د غوښتونکي معلومات** | |
|---|---|
| بشپړ راجستر شوی قانوني نوم | |
| د غوښتونکي موسسې قانوني ثبت شوی لقب (د بېلګې په توګه انتفاعي، غیر انتفاعي) | |
| د ثبت/تأسیس کال | |
| د موسسې د تأسیس هیواد | |
| ایا تاسو په خپل هیواد کې د قانوني محدودیتونو او نورو محدودیتونو په باب خبر یاست چې د IFPIM مالي مرستې ته به ستاسو د لاسرسی د لارې خنډ ګرځي او یا هم د IFPIM له خوا به ستاسو موسسې ته د مالي مرستې د تخصیص د لارې خنډ وي؟ | |

| **مالي جزئیات:** | |
|---|---|
| د غوښتل شویو مالي مرستو مبلغ (US$) | |
| د مالي مرستو موده (حد اکثر 2 کاله) | |
| کلنی بودیجه (ځایي اسعار او د 2022 کال د مې په 3 مه د (US$) د تبادلې نرخ) | |
| کلنی عاید (موجوده وروستي کلني حسابونه) (ځایي اسعار او د 2022 کال د مې په 3 مه د (US$) د تبادلې نرخ) | |

| **د اړیکې معلومات:** | |
|---|---|
| نوم اوکاري لقب _ارتباطي شخص) | |
| پته | |
| ایمیل | |
| د ټیلفون شمیره | |

1. موږ ته د خپلي موسسي په اړه ووایئ (حد اکثر 750 کلمي)

- د خپلي موسسي، مخاطبینو یا کتیه اخیستونکو، د مخاطبینو لاسرسي، (د پلیټ فارم یا لاسرسي پر اساس یي تعریف کړئ د بیلګي په توګه چاپ، تلویزیون، راډیو، ډیجیټل، ویب، او د ټولنیزو رسنیو پلیټ فارمونه)، د خپلو فعالیتونو میزان (د ټولو کارکوونکو شمیر)، او داچي تاسو د عامه کټو د رسنیو له تعریف سره څرنګه همغږي یاست، موږ ته معلومات راکړئ.
- د ټیم د مهمو غړو په اړه لنډه څرګندونه، پر یو پراخ او له قومي پلوه متنوع ټیم یوه عمومي کتنه

2. تاسو به له IFPIM څخه ترلاسه شوي بودیجي څخه څه ترلاسه کوئ (حد اکثر 750 کلمي)

- په لنډه توګه ووایئ چي د IFPIM بودیجه به تاسو د کومو کارونو ترسره کولو ته وتوانوي، د IFPIM د مالي مرستو هدف څه دی، ستاسو له موسسي څخه د پام وړ نتیجه او همداراز مخاطبینو او ټولني ته به یي ګټه څه وي؟
- تاسو ددي مالي مرستي لپاره د بریالیتوب معیار څه ګڼئ؟
- خپلي اړتیاوي او همداراز خپل اوسنی مالي حالت او موجوده بازار چي تاسو پکي فعالیت کوئ، تشریک کړئ.

د موادو یا اسنادو په لیږلو سره، تاسو د IFPIM د محرمیت پالیسي سره خپل توافق څرګندوئ. د غوښتنلیک اړوندو اسنادو په لیږلو سره، تاسو هوکړه کوئ چي (1) موږ کولی شو په راتلونکي کي تاسو سره ستاسو د غوښتنلیک په اړه اړیکه ونیسو، (2) هر هغه څه چي تاسو یي د خپل غوښتنلیک د یوي برخي په توګه برابروئ، احتمالا د IFPIM له ټیم او د IFPIM له سلاکارانو سره به شریکیږي، (3) تاسو په دې پوه یاست چي د IFPIM ټیم د متحده ایالاتو او انګلستان په ګډون - په ټوله نړۍ کي میشت دی – او تاسو هوکړه کوئ چي ټول هغه معلومات چي په خپل غوښتنلیک کي یي وړاندې کوئ، ددې اداري دننه او د دفترونو ترمنځ به شریکیږي.